مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۶/۰۸

# پریږدئ چې سوله راشي

پریږدی چی درد دهجران
پریږدی چی غم د بیلتون
پریږدی چی ویر د فراق
د جدایی او لریوالی ویره
نور د وصال په خوږو
سره مزه مزه کړو .

*****

پریږدئ چی مرګ نه مخکی
د دی دنیا د ختمیدو نه پخوا
مینه زمونږه زړو کی
ځاله وکړی ځای ونیسی
درودونه پورته شی هوا ته لاړ شي
او د خوښی نغمي درو کی پیل شي

*****

پریږدئ چی سوله راشی
واورو د باغ له هری ونی څخه
د بلبلانو ترانې ـ نغمې
خوږې، خوږې اوږدې اوږدې نغمې
پرئ چی خوږئ کاندی مرغۍ وزرې
په خپله ځاله کی بچیو باندی

*****

پریږدی چی حس کړویو د بل وجود
اوږده فراق نه وروسته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

لکه د ګل په څیر نازک لاسونه
یوبل ته غاړه کی امیل کړو سره
چی شی انجام د غمو
چی شی سهار د تیارو
مونږه ولاړیو څراغونه په لاس
غونچی ګلونه په لاس
پریدی چی سوله راشی
مخه یی مه بندوئ
پریږدئ چی راشی سوله.

جون/۵/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ